امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۱۱ الی ۱۶ حوت ۱۴۰۳

شماره نودو هشتم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست ګیزاب ولسوالۍ ته سفر وکړ؛ د غره ښوېیدنې له امله د شهیدانو ورثه نغدی مرستې ترلاسه کړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د بیړنیو حالاتو د رئیس، قاری محمد خوشحال زمانی، او د ورسره پلاوی په ملتیا، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۳ نیټه د وروستیو سېلابونو او د غره ښوېیدنې له امله زیانمنو شویو کورنیو سره د غمشریکۍ، خواخوږۍ او هغوی ته د مرستو رسولو په موخه د ارزګان ولایت ګیزاب ولسوالۍ ته سفر وکړ.

په دې سفر کې، ترابی صاحب د ګیزاب ولسوال، ملا آمر حمزه حنفی، د سیمې مشرانو او زیانمنو کورنیو سره وکتل او د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه د تسلیت پیغام یې هغوی ته ورساوه...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست په اروزګان ولایت کې له سیلاب ځپلو سیمو څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، اروزګان ولایت ته د خپل سفر په ترڅ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې د سرخم، بلاغ، ماشیناو، چوره او وانوو په سیمو کې د وروستیو سیلابونو...

ادامه در صفحه۲


## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکشن اېډ موسسې ترمنځ د ۶۹۴,۴۲۸ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د اکشن‌اید موسسې له رئیس، سری کانتا میسرا سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ترینکوټ ښار له زیانمنو شویو سیمو څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، ارزګان ولایت ته د خپل سفر په جریان کې د ارزګان له والي او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو سره یوځای، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲ نیټه د یاد...

ادامه در صفحه ۳

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې سرپرست ګيزاب ولسوالۍ ته سفر وکړ؛ د غره ښويېدنې له امله د شهيدانو ورثه  نغدی مرستې ترلاسه کړې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابی، د بېړنيو حالاتو د رئيس, قاری محمد خوشحال زمانی، او د ورسره پلاوی په ملتيا، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۳ نيټه د وروستيو سېلابونو او د غره ښويېدنې له امله زيانمنو شويو کورنيو سره د غمشريکۍ, خواخوږۍ او هغوی ته د مرستو رسولو په موخه د ارزګان ولايت ګيزاب ولسوالۍ ته سفر وکړ.

په دې سفر کې، ترابی صاحب د ګيزاب ولسوال، ملا آمر حمزه حنفی، د سيمې مشرانو او زيانمنو کورنيو سره وکتل او د افغانستان اسلامی امارت د مشرتابه د تسليت پيغام يې هغوی ته ورساوه او د پېښې د شهيدانو لپاره يې دعا وکړه.

همداراز د 7 شهيدانو ورثه ته يې نغدی مرستې وويشلې.

ترابی صاحب د سيمې له خلکو قدردانی وکړه چې د جانبی مرستو د نه شتون سره سره توانېدلی، چې ټپيان او د شهيدانو جسدونه د نږدې کور له ويجاړيو راوباسی. نوموړی ټينګار وکړ چې اسلامی امارت تل د خپل ولس خدمت ته چمتو دی، او له خلکو يې وغوښتل چې د سېلاب په لارو او د ځمکې ښويېدنې په سيمو کې د کورونو له جوړولو ډډه وکړی.

ورته مهال, د سيمې خلکو د افغانستان اسلامی امارت، په ځانګړې توګه د الحاج ملا نورالدين ترابی له هڅو مننه وکړه، او غوښتنه يې وکړه چې د دې پېښې له زيانمنو شويو سره دې لا ډېرې مرستې وشی.

د يادونې وړ ده, چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍملی ادارې سرپرست د هر شهيد ورثه ته ۱۰۰,۰۰۰ افغانۍ (ټولټال د ۷ شهيدانو ورثه ته ۷۰۰,۰۰۰ افغانۍ) نغدی مرستې ووېشلې او د ګيزاب ولسوال د يادو شهيدانو کورنيو ته ۵۰,۰۰۰ افغانۍ مرستې ووېشلې.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ  ملي ادارې سرپرست په اروزګان ولايت کې له سيلاب ځپلو سيمو څخه ليدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدين ترابی، اروزګان ولايت ته د خپل سفر په ترڅ کې د سيمه ييزو مسؤلينو په شتون کې د سرخم، بلاغ، ماشيناو، چوره او وانوو په سيمو کې د وروستيو سيلابونو له امله له زيانمنو شوو سيمو او پلونو څخه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۳ نيټه ليدنه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، د زيانمنو شوو سيمو څخه د ليدنې پر مهال له سيمه ييزو خلکو سره وکتل او د تسلې ورکولو ترڅنګ يې د هغوی ستونزې، ننګونې او وړانديزونه واورېدل.

ترابی صاحب زيان ليدونکو ته د خواخوږۍ ترڅنګ وويل، چې د دوی وړانديزونه او ستونزې به د افغانستان د اسلامی امارت له رهبرۍ سره شريکې کړی، تر څو دې ننګونو ته د حل مناسبه لاره پيدا شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکشن‌ایډ موسسې ترمنځ د ۶۹۴,۴۲۸ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د اکشن‌اید موسسې له رئیس، سری کانتا میسرا سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې غونډه کې، ترابی صاحب د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې موږ هڅه کوو ترڅو خلکو ته په ښه توګه خدمتونه وړاندې کړو او هغوی ته مرستې ورسوو، هغه وویل چې سربېره پر دې چې د مرستندویه موسسو ملاتړ کوی، هغوی هڅوی چې د خلکو د ستونزو د کمولو لپاره زیاته بودجه په پام کې ونیسی. همدارنګه یې ټینګار وکړ چې دا ژمنۍ مرستې دی او باید د پلی کولو په برخه کې چټکتیا رامنځته شي.

ترابی صاحب وویل چې افغانستان د خپل جغرافیایی موقعیت له امله د طبیعی پیښو پر وړاندې زیانمنونکې هېواد دی او اړتیا ده چې وقایوی پروژې پلی شي. هغه له موسسو وغوښتل چې په دې برخه کې همکاری وکړی.

وروسته، د اکشن‌اید موسسې رئیس سری کانتا میسرا، له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست څخه د همکارۍ لپاره مننه وکړه او د پروژې په اړه د وضاحت ورکولو پر مهال یې وویل چې دا پروژه د UN_OCHA د دفتر په مالی ملاتړ د اکشن‌اېډ موسسې له لارې د ۶۹۴,۴۲۸ ډالرو په ارزښت به په کابل او غور ولایتونو کې ۱,۷۴۰ کورنیو ته د نغدی او ژمنۍ مرستو په وېش سره پلی کېږی.

د یادونې وړ ده، چې د دې تفاهم نامې پر بنسټ، د ۶۹۴,۴۲۸ ډالرو په ارزښت به د کابل ولایت په پغمان ولسوالۍ کې ۱۰۲۰ کورنیو ته او د غور ولایت په لعل او سرجنګل ولسوالیو کې ۷۲۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۷۴ ډالر د سون توکو او ژمنۍ جامو پېرلو لپاره ورکړل شي، او همدارنګه هرې کورنۍ ته به د ۵۷ ډالرو په ارزښت ۵ تختې (یوه دوه کسیزه او ۴ یو کسیزه) کمپلې ووېشل شي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ترینکوټ ښار له زیانمنو شویو سیمو څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، ارزګان ولایت ته د خپل سفر په جریان کې د ارزګان له والي او یو شمېر نورو سیمه ییزو مسؤلینو سره یوځای، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲ نیټه د یاد ولایت په مرکز کې له زیانمنو شویو سیمو څخه لیدنه وکړه. نوموړی د زیانمنو شویو خلکو سره خپله خواخوږی څرګنده کړه او د ارزګان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ته یې لارښوونه وکړه چې د سروې او رسېدنې بهیر چټک کړی.



د ارزګان ولایت له پیښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د لومړنیو راپورونو له مخې، د یاد ولایت خلکو ته د وروستیو سیلابونو له امله درانه زیانونه اوښتی.

د یادونې وړ ده چې زیانمنو ته د رسېدنې سره هم مهاله روغتیایی او د سروې ټیمونه سیمې ته استول شوی، او زیانمنو ته د رسېدنې بهیر لا هم دوام لری.

ترابی صاحب زیاته کړه چې دا اداره هڅه کوی، د هېواد په کچه په هر ولایت کې د یو میلیون افغانیو په ارزښت کوچنۍ وقایوی او بیړنۍ پروژې پلی کړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د RRDPO موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د RRDPO مؤسسې د پروژې له مسؤل محترم رحیم‌الله عابد سره د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نېټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
ترابی صاحب په دې لیدنه کې د ښه راغلاست ترڅنګ ټینګار وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره تل د مرستندویه موسسو سره د هغوی د فعالیتونو په ترسره کولو کې همکاری کوی، ځکه چې د دوی فعالیتونه د هېواد خلکو ته ګټه رسوی.
وروسته، د RRDPO موسسې د پروژې مسؤل رحیم‌الله عابد د یادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا پروګرام د خوړو نړیوال سازمان په مالی ملاتړ پلی کېږی او د دې پروژې په چوکاټ کې، د RRDPO مؤسسه د تخنیکی، اداری او سروې چارو مسولیت لری او په اضطراری حالاتو کې به د ۳۰,۵۱۳ ډالرو په ارزښت دا پروګرام پلی کړی.
د دې تفاهم‌نامې پر بنسټ، د خوړو نړیوال سازمان په مالی ملاتړ د بېړنیو حالاتو پر مهال ۲۴۵۰ کورنیو ته به په ننګرهار ولایت کې د ۱۰۰ کیلوګرامه اوړه، ۱۲.۵ کیلوګرامه نخود، ۹.۱ کیلوګرامه غوړی او ۱ کیلوګرامه مالګې د مرستو بستې د RRDPO موسسې په همغږۍ وویشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، ارزګان ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له کارکوونکو سره د هغوی د ستونزو, نظرونو او وړاندیزونو د اورېدو په موخه وکتل او ترڅنګ یې د یاد ریاست له ګدامونو څخه هم لیدنه وکړه.
په دې کتنه کې، د ادارې سرپرست  د یاد ریاست له هر کارکوونکی سره په جلا جلا توګه وکتل او د هغوی وړاندیزونه او ستونزې یې واورېدې او د حل لپاره یې د همکارۍ ډاډ ورکړ.
ترابی صاحب د ارزګان ولایت له  پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو ته وویل چې د مراجعینو سره نیک چلند، د کارونو پر وخت او بې له ځنډه ترسره کول، د بیت المال په سمه توګه کارول او اداری اصول مراعاتول باید په جدی توګه پام کې ونیسی. همداراز، نوموړی له هغوی وغوښتل چې د ولس ریښتینی خدمت کوونکی واوسی او د هېواد د پرمختګ او ښېرازۍ لپاره خپله ټوله انرژی او مسلکی پوهه په سمه توګه وکاروی.
په پای کې، د ارزګان ولایت له  پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکو د ادارې له سرپرست څخه د دوی د حال احوال اخیستلو او د ستونزو د اورېدو له امله مننه وکړه. همداراز، هغوی ډاډ ورکړ چې د ادارې د مشرتابه د لارښوونو او پریکړو سره سم خپل کاری پلانونه به لا په ښه توګه عملی کړی.

## له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزي کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۵ کسیز هیئت  چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې کارپوه، د پېښو د خطرونو د تحلیل او ارزونې کارپوه، د بیړینو حالتو د ریاست څخه د NDMIS آمر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د اجرائیه مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د دیزاین او ایډیټ مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲ نیټه د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې شاوخوا یو اونۍ مخکې د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده  د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی  چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کې به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولي او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاري پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړي تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړي.

جنوبي زون ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې  موږ د دوو ورځو په موده کې د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاري پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته  مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړي او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانې ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې  هغه اسنادونه د ځان سره وساتي چې د مرکزي ادارې څخه ورته راځي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزي کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د فراه ولایت له .پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز هیئت  چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخنیوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړینو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۲ نیټه د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې دوې اونۍ وړاندی د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده  د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی  چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کې به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولي او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاري پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړي تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړي.

جنوب غرب زون ته  ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې  موږ د ددو ورځو په موده کې د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاري پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړي او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې  هغه اسنادونه د ځان سره وساتي چې د مرکزي ادارې څخه ورته راځي.

## فراه ولایت ته د وروستیو سېلاب ځپلو سره د مرستو لپاره د خوراکی او غیرخوراکی توکو جوپه ولېږدول شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په لارښوونه، فراه ولایت ته د وروستیو سیلابونو له امله د زیانمنو شویو کورنیو سره د مرستو لپاره د خوراکی او غیرخوراکی مرستو د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۳ نیټه د لېږد بهیر پیل شو.

په دې مرستو کې ۱۱۶۰ بورۍ ۲۵ کیلویی اوړه، ۱۴۳۰ تختې چینایی کمپلې، ۴۶۰ تختې پاکستانی کمپلې، ۸۵۰ تختې روسی کمپلې، ۱۰،۰۰۰ عدده صابون شامل وو، چې په کابل کې د یادې ادارې له مرکزی ګدامونو څخه برابر شوی، او ۱۰۰ خیمې، چې د یادې ادارې د قندهار ولایت له پېښو پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدامونو څخه چمتو شوی او د سیلاب‌ځپلو سره د مرستو په موخه فراه ولایت ته لېږدول کېږی.

یادې مرستې به له سروی وروسته او د مسئولینو په شتون کې، د فراه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې زیانمنو شویو کورنیو ته ووېشل شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزی کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کی کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز هیئت  چی د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخینوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړینو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۳ نیټه د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چی دوې اونۍ وړاندی د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی  چی و به وکولای سی چی د ولایتی ریاستونو په کارونو کی به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

جنوب غرب زون ته  ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چی  موږ د ددو ورځو په موده کی د بادغیس  ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته  مو سپارښتنه وکړه چی خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چی  هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چی د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ ادارې (UN_OCHA) ترمنځ احتمالي وچکالۍ ته د ځواب وینې په اړه تخنیکی غونډه ترسره شوه



دا غونډه د پلان او پالیسۍ د رئیس ملا محمد جاوید عباس، د نړیوالو اړیکو د ریاست سرپرست برهان الدین خان، د UN_OCHA د ستراتیژۍ او همغږۍ رئیسې مانیه، د UN_OCHA د احتمالی پلانونو او نړیوالې وچکالۍ مسئولې جولیه، د UN_OCHA کارمند پاسکل، د UN_OCHA همغږۍ کوونکی شمس خلیلی او د دې ادارې د یو شمېر آمرینو او کارکوونکو په شتون کې د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه ترسره شوه.
په دې غونډه کې، د نړیوالو اړیکو د ریاست سرپرست برهان الدین خان، د بېلابېلو موسسو د ښې همغږۍ قدردانی وکړه او ویې ویل چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې مشرتابه د وچکالۍ د مدیریت په برخه کې د فعاله موسسو سره هر ډول همکاری ته چمتو ده او د هغوی ملاتړ کوی.
د غونډې په دوام کې، په تېرو درې میاشتو کې د هیدرومتروولوجیکی پارامترونو او د راتلونکو وړاندوینو په شمول د ملی او نړیوالو سازمانونو د وړاندوینو او تحلیلونو په اړه بحث وشو او دا تحلیلونه د تیرو کلونو له ارقامو سره پرتله شول.
د غونډې په پای کې ټینګار وشو چې د وچکالۍ د مدیریت لپاره باید د ورښتونو ارقام او د موجوده سرچینو معلومات په دولتی ادارو او د بشری مرستو په نړیوالو سازمانونو کې سره یوځای شی او پرېکړه وشوه چې د وچکالۍ د مدیریت او رسیدنې پلان ترتیب شی.

# په کونړ ولایت کې د استنادی دیوال د جوړولو کار پرانستل شو



د عالیقدر امیرالمومنین حفظ الله د حکم له مخې، د هېواد په ټولو ولایتونو کې د پېښو د خطرونو کمولو په موخه د بېړنیو کوچنیو وقایوی پروژو پلی کولو په پار د هر ولایت لپاره یو میلیون افغانۍ ځانګړې شوی دی، او دا پروژې به له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې لخوا پلی کېږی، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت ډانګام ولسوالۍ په دوبندو خور سیمه کې د یو میلیون افغانیو په ارزښت د استنادی دیوال د جوړولو کار پیل کړ.
د دې پروژې د پرانستلو په مراسمو کې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، الحاج قاری ثابت‌الله صدیقی، وویل چې د اسلامی امارت مشرتابه د بېړنیو او اړینو پروژو د پلی کولو لپاره د دې ولایت لپاره یو میلیون افغانۍ ځانګړې کړې دی. نوموړی زیاته کړه چې دا استنادی دیوال د خلکو د اړتیاوو په پام کې نیولو سره جوړیږی او د سیلابونو له خطر څخه د نوی جوړ شوی پل او سلګونه جریبه کرنیزو ځمکو په ساتنه کې مهم رول لری.
ورپسې، د کونړ ولایت د مقام د دفتر رئیس، مولوی محمد امین حق‌پرست، ټینګار وکړ چې د اسلامی امارت مسئولین د خلکو له ستونزو خبر دی او د حل لپاره یې اقدامات کوی.
له بلې خوا، د ډانګام ولسوال، مولوی عمر صدیق، د ولایت مقام او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسئولینو څخه  د خلکو غوښتنو ته د پاملرنې او پر وخت اقدام له امله مننه وکړه.
د یادونې وړ ده، چې دا استنادی دیوال به د ۵۰ متره په اوږدوالی او ۲۳۴ متر مکعب په حجم سره جوړېږی، او په بشپړېدو سره به د دوبندو خور سیمې اوسېدونکی د احتمالی سیلابونو له خطر څخه خوندی پاتې شی.

## د مالي او اداري ریاست پلاوی د مالي او اداري چارو د څارنې او لارښوودنې لپاره د هېواد سویل او سویل لویدیځ ولایتونو ته ولېږل شو



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه، د مرکزی ادارې دوه کسیزه پلاوی، چې د مالی او اداری ریاست د بودجې عمومي مدیر او د ګدامونو عمومی مدیر پکې شامل دی، د هېواد سویل او سویل لویدیځ ولایتونو ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه ولېږل شو، ترڅو د یادو ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو مالی او اداری چارې وڅاری او لازمې لارښوودنې وکړی.
یاد پلاوی تر دې دمه د زابل، ارزګان، کندهار او هلمند له ولایتونو څخه لیدنه کړې او ویلی یې دی، چې دغه سفر د اسلامی امارت د عالی مقام، د ریاست الوزراء مقام، د مالیې وزارت او د مرکزی ادارې د مشرتابه د احکامو، لارښوونو او مقرراتو د پلی کېدو په موخه ترسره شوی دی.
د دې مأموریت اساسی موخې، د مالی او حسابدارۍ چارو د څارنې، د اداری پروسو شفافیت، د دفترونو تنظیم، د لازمو معیارونو سره سم د خوراکی او غیرخوراکی توکو د ساتنې په موخه د ګودامونو مدیریت، او د دغو توکو د لېږد او ترلاسه کولو د بهیر ارزول دی.
د یادونې وړ ده، چې دغه بهیر به د هېواد په ټولو ولایتونو کې پلی شی، او هممهاله، یو بل ورته پلاوی د شمال او شمال ختیځ زون لپاره هم ټاکل شوی دی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزی کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنی او ارزونی په موخه د درو ورځو په موده کی کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز هیئت  چی د څارنی او ارزونې ریاست څخه د ارزونی امر، د خطر د مخینوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړنو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنی او ارزونی، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه د هرات ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.
دا څارنه او ارزونه چی  شاوخوا درې اونۍ وړاندی د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی  چی و به وکولای سی چی د ولایتی ریاستونو په کارونو کی  به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.
جنوب غرب زون ته  ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چی  موږ د ددو ورځو په موده کی د هرات  ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چی خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او ټولو کارمندانه ته توصیه وشوه چی  هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چی د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د نه آنلوس موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د کابل ښار ۱۵ مې ناحیې اړوند ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه, ۱۰ لیتره غوړی, ۷ کیلو بوره, ۷ کیلو لوبیا, ۷ کیلو وریجې او ۱ کیلو شین چای ووېشل شول.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۵مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ماشومانو د ساتنې نړیوالې موسسې (Save the children) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت په لوړ میوند ولسوالۍ کې ۱۲۵مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ژمنیو اړتیاوو پوره کولو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۱۴,۷۰۰ افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال ۱,۸۳۷,۵۰۰ (۱ میلیون, ۸۳۷ زره او ۵۰۰) افغانۍ نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا برای ۱۵۰ خانواده نیازمند البسه زمستانی توزیع کرد




بر اساس هماهنگی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه یونیسف، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کاپیسا با حمایت موسسه یونیسف، برای ۱۵۰ خانواده نیازمند و مستحق در آن‌ولایت البسه زمستانی بتاریخ ۵ رمضان سال ۱۴۴۶ هـ ق توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان بعد از سروی به هر خانواده ۱۴ قلم البسه زمستانی توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۲۳ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، برای ۲۳ خانواده که از اثر حوادث طبیعی در ولسوالی‌های قره‌باغ، موسهی، پغمان و نواحی شهر کابل آسیب‌دیده بودند، بعد از سروی کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی بتاریخ ۴ رمضان سال ۱۴۴۶ هـ ق توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان یک بوری آرد ۵۰ کیلویی، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، یک کارتن آش، یک بسته زمستانی، ۳ تخته کمپل، ۳ عدد توشک، ۳ عدد بالشت، ۲۰ عدد صابون و ۶ جوره چپلک و برای یک ورثه شهید مبلغ ۲۰،۰۰۰ افغانی توزیع گردید.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌ریاست ۷۹۷ زیانمنونکو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د PIN موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د غزنی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ‌ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱ نیټه د یاد ولایت په جاغوری ولسوالۍ کې ۷۹۷ زیانمنونکو کورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ‌ته ۱۴،۴۵۶ افغانۍ او له یادې جملې ۳۹۹ کورنیو هرې یوې ته ۵ تختې(یوه دوه کسیزه او 4 یو کسیزه) کمپلې هم د ۵،۵۳۳ افغانیو په ارزښت ووېشل شوې, او ټولټال ۱۱،۵۲۱،۴۳۲ (۱۱ میلیون, ۵۲۱ زره او ۴۳۲) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

د یادونې وړ ده چې د مرستو ترلاسه کوونکو له یاد ریاست او موسسې څخه مننه او قدردانی وکړه

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲ تنه ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه, د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱ نیټه د یاد ولایت په مارجې ولسوالۍ‌کې د وروستیو طبعی پېښو له امله ۲ تنه ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هر ټپي شوی کس ۱۰،۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۹۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د OHW موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې, د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۱ نیټه د یاد ولایت په چهاردره ولسوالی کې د وچکالۍ له امله ۳۹۵ زیانمنو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې.

د یادونې وړ ده چې په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ‌ته د دریېم قسط 2,951 افغانۍ ووېشل شوې, چې ټولټال 1,165,645 (1 میلیون, ۱۶۵ زره او ۶۴۵) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۷۲۰مستحقوکورنیو ته نغدی او ژمنۍ مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د OHW موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړې لیک له مخې, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نیټه د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د یاد ولایت په مرکز لښکرګاه ښار کې ۷۲۰ مستحقو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړې کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د ۲۰۰ ډالرو معادل افغانۍ د سون توکو لپاره او د ۷٤ ډالرو معادل افغانۍ د ګرموجامو او د ٥ تختو کمپلو پېرلو لپاره ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث جوزجان برای خانواده‌های متضرر از آتش‌سوزی و بارندگی‌های اخیر مساعدت خوراکی و غیر خوراکی کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت جوزجان برای ۵ خانواده‌ای که در اثر آتش‌سوزی و بارندگی‌های اخیر در مرکز شهر و ولسوالی های آن ولایت که خانه های شان به‌طور کلي و قسمی تخریب شده بودند، بتاریخ ۳ رمضان سال ۱۴۴۶ هـ ق کمک‌های ضروری توزیع کرد.

برای این خانواده‌ها پس از سروی و شناسایی توسط هیئت موظف، از امکانات ریاست آمادگی مبارزه با حوادث، برای سه خانواده‌ای که خانه‌هایشان به‌طور کلی تخریب شده بود، به هر یک ۷۵ کیلو برنج، ۱۵ لیتر روغن، ۲۰ کیلو گاز مایع، سه تخته کمپل، ۲ عدد سطل آب و ۱ پایه خیمه چینایی همراه با تمامی لوازم آن توزیع شد. همچنین، برای ۲ خانواده‌ای که به‌طور قسمی آسیب دیده بودند، برای هر یک ۵۰ کیلو برنج، ۱۰ لیتر روغن، ۲۰ کیلو گاز مایع، ۲ تخته کمپل و ۲ عدد سطل آب اختصاص یافت.

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست ۱۳۰ کسانو ته د کار په بدل کې نغدی پیسې ووېشلې




د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې امادګۍ ریاست د لوړې پر وړاندې د مبارزې موسسې (AAH) په مالی ملاتړ, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۴ نېټه د پاتو ولسوالۍ په زرغاب کلی کې ۱۳۰ کسانو ته د کار په بدل کې نغدی پیسې ووېشلې.
د یادونې وړ ده, چې په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هر کس ته ۸,۵۰۰ افغانۍد کار په بدل کې ووېشل شوې.
دا مرستې "د کار په بدل کې نغدی مرستې" په چوکاټ کې د خلکو د زیانمنتیا کمولو او د طبیعی پېښو پر وړاندې د هغوی د وړتیا پیاوړی کولو په پار ترسره شوې.

## د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۶ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM)، د خوړو نړیوال سازمان (WFP)، د ملګرو ملتونو د جمعیت صندوق (UNFPA) او د UNICEF سازمان سره په نږدې همکارۍ، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۵ نېټه د زیانونو له ارزونې وروسته ۹۶ کورنیو ته چې د وروستیو له سېلابونو له امله زیانمنې شوې وې، اړینې مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۵ کیلو نسک، ۲ کیلو مالګه، ۱۸ لیټره غوړی، د ماشومانو لپاره ۳ کیلو شیدې، روغتیایی بستې، کمپلې، د پخلنځی توکی، د بېړنۍ سرپناه کېټونه، سولری څراغونه، پلاستیکی فرشونه او ۳۴ هغو کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړه توګه ویجاړ شوی وو، خیمې ووېشل شوې.

## د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۶۲ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د UN-Habitat موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې, د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نېټه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ, د کابل ښار ۱۳ مې ناحیې اړوند ۱۶۲ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۳۰۰ ډالر نغدی پیسې ووېشل شوې, چې ټولټال ۴۸,۶۰۰ ډالر نغدی پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۵ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ARCI موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ARCI موسسې په تخنیکی همکارۍ او د WFP سازمان په مالی ملاتړ، ۳۵ زیانمنو کورنیو ته په یاد ولایت کې خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته د مسؤولینو په شتوو کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه،۹.۱ کیلو غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال، ۱ کیلو مالګه او د مېندو او ۵ کالو څخه د کمو ماشومانو لپاره مغذی حلوا او سوپر سریل ووېشل شول.

د یادونې وړ ده چې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او مرستندویه بنسټونو څخه قدردانی وکړه.

## د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۴ زیانمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د اکټيډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی همکارۍ، ۳۴ زیانمنو کورنیو ته د "بېړنیو روزنو او سیمه ییزو څو سکټوری بیړنیو مرستو" د پروژې په چوکاټ کې د بیړنیو حالاتو لپاره د چټک غبرګون د ښه والي په موخه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته هرې کورنۍ ته د سرپناه د ترمیم لپاره ۵,۲۲۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۹ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په ښار او ولسوالیو کې د طبیعی او غیر طبیعی پېښو له امله ۲۹ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو سپینې وریجې، ۵ تخته کمپلې،۵تخته توسان، ۳جوړې څپلکی او یو عدد سطل او ۱ کورنۍ ته ۵۰کیلو شوله وریجی، ۴تخته کمپلان،۴تخته توسان ۱ کوچنی ۳x۴ خیمه او ۲ جوړې څپلکی ووېشل شوې.

# د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د وروستیو ورښتونو له امله زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي او د شهید ورثه ته نغدي مرستې ووېشلې




د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په قلعه نو، جوند، قادس، بالامرغاب او مقر ولسوالیو کې د وروستیو ورښتونو له امله ۱۰ زیانمنو کورنیو ته د ۱۴۴۶ هـ ق کال د رمضان په ۶ نیټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم، ۱ کارټن مکۍ آش، ۱۲ کیلو مکروني، ۵ تختې کمپلې، ۱ توشکه، ۱ روغتیایي کېټ، ۱ بسته ژمنۍ البسې، ۱۰ جوړه خولۍ او جرابې، د اوبو ۱ سطل او ۲ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړه توګه ویجاړ شوي وو، یو یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

همداراز، د دغو پېښو له امله د یو شهید کورنۍ ته ۲۰،۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

سربېره پر دې، د کډوالۍ نړیوال سازمان(IOM) هم له درې نورو کورنیو سره مرسته وکړه او یادو کورنیو د پخلنځي توکي، ژمنۍ جامې، کمپلې او پلاستیکي فرش یې ترلاسه کړ.

## عامه پیغامونه :

20. د زلزلې وروسته د بیا لرزو په وخت کې چمتو اوسئ او په خلاصه فضا یا خیمو کې ځان وساتئ

21. د زلزلې وروسته د بیا لړزو په وخت کې د زیانمنو ودانیو څخه ځان لرې وساتئ او هغوی ته مه ورننوځئ

22. څوک چې د یو انسان ژوند وژغوري داسې ده لکه د ټولو انسانانو ژوند چې یې ژغورلی وي (الایة)

23. څوک چې د خپل مسلمان ورور سره مرسته کوي الله ج به د هغه سره مرسته کوي (الحدیث)